ماخذ تحقیقی مجلہ

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26

OPEN ACCESS

CC BY NC

نور الرحمان
پي ايچ ډي سکالر ، مطالعاتی مرکز باچا خان یونیورستي چارسده
ډاکټر اصل مرجان (محب وزیر)
اسسټنټ پروفیسر ، مطالعاتی مرکز باچا خان یونیورستي چارسده

# د"مفرور" ناول مرکزي کردارونه د نرګسي رجحاناتو او ابنارمليت په رڼا کښې

**Mr. Noor ur Rehman ***
Ph.D scholar , PSC, BKUC.
**Dr. Asal Marjan (Muhib Wazir)**
Assistant Professor, PSC, BKUC.
***Corresponding Author:** mwazir@bkuc.edu.pk

## The Central Characters of the Novel "Mafroor" in the Light of Narcissistic Tendencies and Abnormality

"Mafroor" by Mia Said Rasool Rasa is a remarkable novel in terms of theme, technique, character portrayal, and artistic expression. First published in 1963, the novel presents a vivid depiction of the lives of fugitives. The central characters, Umray and Gulabo, dominate the narrative. Both characters are portrayed as having intense narcissistic tendencies and signs of abnormality. Narcissism, as we know, exists in human personality in a developmental spectrum—ranging from ordinary expressions to more pathological extremes. It often manifests as a self-centered behavior pattern that revolves solely around personal desires and needs. The characters of Umray and Gulabo reflect precisely this type of narcissistic and abnormal psychology. The writer has analyzed these personalities through the

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26

ماخذ تحقیقی مجلہ

lens of psychology—particularly by drawing upon Sigmund Freud's theories. Based on psychological reasoning, the analysis reveals the narcissistic tendencies and psychological deviations in both characters, making their portrayal not just fictional but deeply psychological and symbolic as well.

**Key Words:** *Novel, Character, Pashto ,Mafroor, psycho ,Analysis, Narcissistic ,Tendencies ,Abnormality, Eros.*

"مفرور" د میا سېد رسول رسا په لیکلو شوو ناولونو کښې وړومبے ناول دے چې په وړومبي ځل په کال ۱۹۶۳ءکښې چاپ شوےدے- په دې ناول کښې د مرکزي کردارونوکردارنګارۍ ته خصوصي پاملرنه شوې ده او د دغوکردارونو سره تړلي شوي نور همه ضمني کردارونه، امدادي محسوسېږي- "عمرے" او "ګلابو" د مفرور بنیادي او مرکزي کردارونه دي چې د ناول ټوله قیصه ترېنه چاپېره چورلي - په دې دواړوکردارونو د نرګسي رجحاناتواثرات ډېر په واضحه ډول مخې ته راځي-

د عمري کردار

عمرګل عرف عمرے د مفرور ناول هیرو او مرکزي نارینه کردار دے - لکه څنګه چې نرګسیت په انساني شخصیت کښې په یو ارتقائي شکل کښې موجود وي او د معمولي نه واخلې تر غېر معمولي حده پورې د شخصیتي څرګندونې په رنګ کښې ظاهرېږي، عن تر دې یوه داسې خود غرضه رویه جوړه شي ،کومه چې یواځې د خپلو ضرورتونو او خواهشونو دائره لري - د عمري کردار هم د دغسې یو ارتقائي عمل نه تېر شوے د معمولي نه تر غېر معمولي حده رسېدلے برېښي-

د فرائیډ په خیال نرګسیت (Narcissism) کښې ښکېل وګړے په غېر شعوري توګه د خپل ذات سره د مینې ښکار وي -هغه چې په آئینه کښې

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26

خپل ځان ويني نو نۀ يواځې ترېنه مزه اخلي بلکې داسې ورته محسوسېږي چې ګني آئينه کښې يو بل وګړے دے -

فرائيډ نرګسيت د جنسي ارتقا په مرحلو کښې شماري او د دې نه مطلب د يو کس هغه دماغي حالت (کېفيت) اخلي چې خپل ذات سره جنسي مينه لري کوم چې د تحليل نفسي له رويه د انا مريضانه جنسياتي صورت دے -

د انکارټا ورلډ انګلش ډکشنرۍ تر مخه

"In Psychanalytic theory, emphasis is placed on the element of self-directed sexual desire in condition."١

ترجمه : د نفسياتي نظريې تر مخه، د خپل ذات نه زېږېدلې جنسي غوښتنې په عنصر زور ورکړے کېږي -"

پروفېسر انور جمال د نرګسيت د وضاحت په توګه ليکي چې :

"یہ بنیادی طور پر علم نفسیات کی اصطلاح ہے۔ جس سے خود پرستی، محویت یا ذات مراد ہے۔ خود اپنی ہر ادا پر سو سو جان سے فدا ہونا نرگسیت ہے۔ خود ہی محب، خود ہی محبوب گویا پیش نظر ہے۔ آئینہ دائم نقاب میں، کی کیفیت ہوتی ہے۔ اپنی ذات میں اس قدر محو رہنا کہ بیرونی ذات ہیچ لگے۔ نفسیات میں نرگسیت بیماری بھی ہے اور علاج بھی۔ تنقید ادب نے یہ اصطلاح ایسے فن کاروں کے لیے استعمال کی ہے جو خود پرستی کی قابل رحم حالت میں مبتلا ہوں۔ خود پسندی، انانیت اور تعلی نرگسیت ہی کے مظاہر ہیں۔ فنکار میں پرستشِ ذات اور انانیت کی سطح عمومی انسانوں سے بلند ہوتی ہے۔"٢

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26
ماخذ تحقیقی مجلہ

عمرے د متکلم په صيغه کښې خپله قيصه بيانوي چې د نرګسي رجحان يو ښکاره عمل دے- بله دا چې عمرے نۀ يواځې خپله قيصه راوي ته په خوند خوند او زبر زبر اوروي بلکې د خپلې قيصې د ليکلو او خوندي کولو هم ارماني دے او راوي ته په بيا بيا دغه خواهش تکراروي-

کله چې ناول نګار په وړومبي ځل د پېښور سنټرل جېل ته د عمري ملاقات له راشي او د هغۀ نه د ځان ورکولو وجه وپوښتي او عمرے خپله قيصه شروع کړي نو ناول نګار ته وائي چې :

"دغه مې په زړۀ کښې ارمان وۀ چې دا خپله قيصه مې د الف
نه تر ي پورې چاته تېره کړې نو بيا کۀ مړ شم ، نو پرواه به
مې نۀ وي او دا مې هم ارمان دے چې دا قيصه کۀ چا د
کتاب په شکل کښې وليکله نو ډېر خوند ناکه قيصه به وي
- ډېر خلق به ئې په شوق لولي " ۳

او چې څۀ وخت راوي عمرے په دې خبره مطمئن کړي چې د هغۀ قيصه به دے په خپله د کتاب په صورت کښې ليکي نو ډېر زيات خوشحاله شي او خپله قيصه ورته پېل کړي-

کله چې يو بنيادم خپله قيصه بيانوي او د خپلو معمولاتو، ذات، خوښو ناخوښو او هلو ځلو په بابله خبرې کوي نو په اکثرو موقعو د هغۀ اظهار د نرګسيت لمنه نيسي او په لاشعوري توګه خپل صفتونه کوي يا د مبالغې نه کار اخلي-

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26
ماخذ تحقیقی مجلہ

د قيصې بيانولو دوران کښې عمرے په يو ځاے کښې ناول نګار ته د خپل ښائست ، بدني مضبوطتيا ، غصې او خپلې حُليې په حقله داسې ووائي چې:

" زۀ په هغه زمانه کښې په نوې ځوانۍ کښې وم، د برېتو نه مې وينې څڅېدلې او په وجود ښۀ مضبوط وم - نرې نرې برېت مې پرېښې وو ا ورېره مې صفا خرئيله- " ۴

مطلب دا چې نۀ يواځې په خپل ښائست مغروره وي بلکې په دې خوش فهمۍ کښې هم مبتلا وي چې ګني زۀ دومره قهرژن ښکارم چې خلق مې د تندمزاجۍ نه وېره کوي -

کله چې ګلابو په ورومبي ځل عمرے د بدمعاشانو او ډاکه مارو مجلس ته بوځي او په اتفاقي توګه عمرے په جوارۍ کښې ښې ډېرې پېسې وګټي نو د جوارګرو نيت عمري ته خراب شي- هغوي چې د شرابو په نشه کښې مست شي نو په جوارۍ کښې جګړې شروع کړي - يو لوړ، دنګب رېتو جوارګر د عمري د روپو په ټولګي حمله وکړي خو دے ورله ديکه ورکړي او يو طرفته ئې وغورځوي، ګلابو زر روپۍ راغونډې کړي- برېتو چې د زمکې نه راپاڅي نو د بډې نه چاقو راوباسي او عمري ته په چغه ووائي :

" دا تۀ نن مرګ چرته راوستے يې، تۀ ما نۀ پېژنې ؟ زۀ ستا په شان چرګوړي روزانه حلالوم" نو عمرے ورپسې هم د بډې نه چاقو راوباسي او چې ګلابو ورته غلې شان دا هم ووائي چې :

" ګورې وروستو نۀ شې، مړے به کوې " نو د عمري نرګسيت د ابنارمليت تر بريده ورسي لکه چې وائي :

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26



" زۀ د شرابو په نشه کښې وم ، لکه د ښهر مې په برېتو بدمعاش چاقو په لاس ورتوپ کړو خو هغه يو طرفته شۀ او زما ګوزار خطا لاړو، نور خلق مو په تماشه ودرېدل او هيچا د خلاصي کوشش نۀ کولو - برېتو اوس چاقو په لاس په ما رادۀ کړو خو ما تېر ورکړو او د هغۀ ګوزار هم خطا شو - يو ساعت پس مونږ چاقوان په لاس په پرزونو شو- اخر برېتو مې را لاندې کړو او په دا زړۀ مې ورته چاقو ښخ کړو، د هغۀ د زړۀ نه لکه د فوارې وينو دارې ووهلې، تاؤ راتاؤ شو او ساه ئې ورکړه " ۵

پورتنۍ کرښې نۀ يواځې مونږ ته د عمرې د کردار موقعه پرستي او خود غرضي ښائي بلکې د هغۀ د طاقت نشه او غرور پکښې هم رانغاړلے شوے دے - چې يو نرګسي انسان د خپلې ذاتي فائدې او خواهشونو په خاطر تر کومه حده تللے شي - يا خپل ځان د مبالغې تر حده څومره اهم ګڼي او د خبرو يا حرکاتو، سکناتو نه ئې تر کومه حده د غرور او تکبر بوئي ښکارېږي- د نرګسي انسان سوچ صرف د خپل ذات نه چاپېره چورلي- ډاکټر سلام سندهيلوي ليکي چې :

"نرگسی انسان ہر حالت میں اپنے انا اور اپنی ضد کو بلند کرنا چاہتا ہے اور سماج میں ایک اعلیٰ مرتبہ حاصل کرنا چاہتا ہے۔ اس مقصد کے حصول کے لیے وہ مختلف قسم کے حربے استعمال کرتا ہے۔ کبھی وہ اپنی خودداری کا اظہار کرکے خود کو قابل احترام بنانے کی کوشش کرتا ہے۔ کبھی وہ اپنی خود پسندی کو نمایاں کرکے دوسروں کو مرغوب بنانے کی کوشش کرتا ہے۔ کبھی وہ اپنی جذبہ محبوبیت کو پیش کرکے اپنی پرستش کرانا چاہتا ہے۔ کبھی وہ ہم جنسی

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26
ماخذ تحقیقی مجلہ

کے رجحانات کو بے نقاب کر کے اپنی ہی جنس اور اپنی ہی ذات پر فریفتہ ہو جاتا ہے۔ کبھی وہ اپنی تخلیقی خواہشات کی تکمیل کر کے اپنی عظمت میں اضافہ کرنا چاہتا ہے۔ کبھی وہ اپنی تصوریت کے ذریعہ عوام پر اپنے بلند نظریات کا سکہ جمانا چاہتا ہے۔ کبھی وہ جاہ و حشمت کا طالب بن کر اپنی موجودہ حیثیت کو بلند کرنا چاہتا ہے اور کبھی کبھی ایسا بھی ہوتا ہے کہ جب وہ اپنے بلند مقاصد میں ناکام ہو جاتا ہے تو بدرجہ مجبوری دنیا سے کنارہ کشی اختیار کر لیتا ہے۔ دراصل یہ سارے نکات ایک ہی نرگسی انسان کے مختلف روپ ہیں اس لیے ان میں تضاد نھیں۔"٦

کله چې راوي د عمري د نیمګړي داستان اورېدو د پاره دوباره ملاقات له لاړ شي نو هغه نۀ یواځې بې حده خوشحاله شي بلکې په ډېرې بې تابۍ سره څۀ په دې ډول ګویانه شي چې:

" خان ! په ما دومره سختې ورځې په خپل ژوند کښې نۀ دي تېرې شوې لکه دا هفته، درسته هفته مې ځان سره سودا کوله او ستا انتظار مې کولو - ماوې کۀ رانۀ شي نو زما قیصه به نیمګړې پاتې شي- زۀ د مرګ نه نۀ وېرېږم، کۀ د مرګ نه وېرېدے نو ما به خپل ځان خپله څۀ ته پولیس ته سپارلو خو زما د ژوند دا قیصه کۀ چا ونۀ لیکله نو دا به زما مرګ وي او د دې به ماسره افسوسي - " ٧

د خپل ژوند قیصه دنیا ته پرېښودل په حقیقت کښې د عمري په شخصیت کښې د ایروس (Eros) هغه طاقت دے چې د دغې قوت په اساس انسان د مرګ نه پس هم ختمېدل نۀ غواړي او هغه دې د نورو ژوندو انسانانو په

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26

ماخذ تحقیقی مجلہ

حافظه او ذهن کښې د خپلې قيصې په رنګ کښې ژوندے وي چې د يو انسان د نمود جذبې ته اشاره کوي-

نرګسي بنيادم د ځان په بابله هر وخت د شاباشۍ خواهش لري او خپل اهميت ، طاقت او بريا د مبالغې تر حده په بيا بيا ګردانوي-

په يوه ډاکه مارۍ کښې چې کله د مال د تقسيم په وخت يو ډاکه مار د عمري وېش نۀ مني، نو عمرے د هغۀ د سرخورولو فېصله وکړي -دغه واقعه د واحد متکلم په صيغه کښې څۀ په دې ډول بيانوي:

> " ګلابو زما په قيصه پوهه شوه ، هغې سرکش سړے په خبرو کړو او د وروستو مخې تماچه په لاس راغلم او يو ځو ډزه مې په سر وويشتو - په هغه ځاے په قلار شو او زما سرداري بيا قائمه شوه، نورو ټولو زما وېش ومنلو - مړے موکنده کښې ښخ کړو او مونږ ورنه خپلو کورونو ته راغلو- دا زما اولنۍ ډاکه او د کنستېبلرۍ سره وړومبۍ مقابله وه- چې کور ته راورسېدو، ګلابو ماته ډېر شاباشے راکړو- "۸

د عمري په شخصيت تر ډېره حده د ګلابو د کردار سيورے وي - هغه د ژوندانۀ په اکثرو ډګرونو د ګلابو د فېصلو تابعداري کوي او تر ډېره حده د خپلې فېصلې د قوت نه عاري وي-

محترم مبارک حېدر په خپل اردو کتاب "*تہذیبی نرگسیت*" کښې د نرګسي انسان په حقله ليکي:

> *" ان کے تقریبا تمام خیالات اور طرز عمل دوسروں سے مستعار ہوتے ہیں۔ یعنی یہ لوگ ایسے لوگوں کے خیالات و اطوار کی نقالی کرتے ہیں جنہیں یہ سند مانتے ہیں۔ اسے عکس کی*

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26
ماخذ تحقیقی مجلہ

پیروی (Mirroring) کہا جاتا ہے یعنی یہ ان بڑے لوگوں کی پیروی کے ذریعے دراصل خود کو عظیم محسوس کرتے ہیں۔"۹

د عمري په شخصيت کښې بې صبري هم شتون لري -زغماو برداشت نۀ شي کولے ، ډېر زر د جذباتو ښکار کېږي او د هوش په ځاے د جوش نه کار اخلي- دغه رنګ ضدي او شکي مزاجه هم وي، عن تر دې چې خپلې کورودانې ته هم د شک په نظر ګوري چې د يو نرګسي انسان ښکاره خصوصيات دي- لکه چې په يو ځاے کښې راوي ته خپله قيصه بيانولو کښې وائي چې :

" بل مازيګر د پروګرام مطابق د بنجاري بابا سره هغه سرې راغے ، هغه يو ښکلے ځوان وۀ، نري نري برېت ئې پرېښي وو او هغۀ چې په کومې ازادۍ سره د ګلابو سره مجلس کولو، د هغې نه ما ته داسې معلومه شوه ګني د ګلابو زوړ يار دے، زما زړۀ کښې د رقابت اور ولګېدو او څو څو ځله مې زړۀ کښې راغلل چې د سپټهٔ د غلا نه وړاندې د دۀ سر خور کړم، ګلابو هم زما په سترګو پوهه شوه او هغې په خبرو خبرو کښې په چل چل زما څۀ داسې تسلي وکړه چې ما د صبر نه کار واخستۀ " ۱۰

پښتانۀ بغېر له ځانه نۀ څوک مني او نۀ څوک ويني - هغوي دا عقيده لري چې "ځان دے نو جهان دے" دا هم وائي چې " ځانه خپله ځانه " او دغه متل هم کوي چې " زما د سر نه تېره خدايه مۀ کړې دنيا ډېره " دغه تيولې

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26


وېناګانې، متلونه د نرګسي رجحاناتو ښکاره نخښې دي او عمري خپلو خبرو کښې دغه واړه متلونه ګردان کړي دي - هغه خپله د ااقرار کوي چې :

" د ځان به بهر وتل ګران دي ، په هر رنګ او په هر څۀ کښې
بنیادم دا ځان وړاندې وړاندې کېږي او بغیر له ځان نه نۀ بله
کوي او نۀ بله کولے شي ، اول ځان دے بیا جهان دے --" ۱۱

پورتني څو داسې محرکات ، جذبات او واقعات دي چې مونږه ترېنه د مفرور ناول د مرکزي کردار عمري د نرګسي رجحاناتو اندازه لګولې شو -

د ګلابو کردار

ګلابو د مفرور ناول ښځینه مرکزي کردار او هیروئین ده- ښاغلي سید رسول رسا د ګلابو کردار کښې یو شمېر ځانګړې خصوصیات رایو ځاے کړي دي چې د ناول خوند ، رنګ او سسپنس کښې ئې اضافه کړې ده- دا بیله خبره ده چې په بعضې موقعو قیصه کښې په دې کردار کښې مردانه خوبۍ مخې ته راځي او داسې محسوسېږي چې د ګلابو د کردار په شا لیکوال خپله لګیا وي - رسا صاحب چونکې د ختیز او لوېدیز ادب ډېره غرقه مطالعه لرله ځکه ئې خپلو لیکلو ناولونو کښې په کردارنګارۍ خصوصي توجو ورکړې ده چې یو ښکاره مثال ئې د مفرور ناول مرکزي کردارونه دي-

ګلابو یوه ښکلې، چشته، چالاکه، اپریدۍ جینۍ وي - د سرو جامه پېزار اچوي او په ظاهره د پېښور نه بهر په یوه کارخانه کښې د نورو غریبانانو ښځو سره کار کوي خو اصلي پیشه ئې ډاکه ماري وه -کومه چې به ئې پټ په پټه کوله - د هغې عمري سره ورومبے ملاقات هم په دغه کارخانه کښې

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26
ماخذ تحقیقی مجلہ

شوے وي- او د هغهٔ نه په پوره ډول هغه وخت اغېز منه شي کله چې دا په کارخانه کښې په يوې جينۍ د چاقو ګوزار وکړي - هغه په پټون زخمي کړي ولې چې هغې وريورې ټوقې مسخرې کړې وي - دغه وخت په پېره ولاړ عمر ګل سپاهي د خپلې نوکرۍ خيال ونهٔ ساتي ، د قام ولۍ په خاطر ګلابو ته د تښتېدو موقعه ورکړي- او په دغه اساس د دې کلک ځيګرې اپريدۍ زرهٔ خپل موتې کښې رابند کړي - هغه د پېښور په يوه تنګه کوڅه کښې په يو وړوکي شان دوه چتيزه کور کښې د يوې بوډۍ ښځې په ډاډ د ژوند ورځې شپې سبا کوي ،کومه چې ئې په مور نيولې وي او هم په دغه کور کښې هغه عمرګل د خپلې پېښې او ژوند ملګرتيا ته جوړ کړي او هغه د عمر ګل نه عمرے بدمعاش شي -

د ګلابو کردار کښې د يو شمېر نرګسي رجحاناتو ځرکونه بربښي - هغه ډېره خودغرضه وي او د مال او دولت تر لاسه کولو د پاره هر روا او ناروا کار ته ورلاندې وځي - هر څو کهٔ خود داري او خود اعتمادي د هغې د فطرت جوته برخه وي ولې هغې چې د ژوندانهٔ د تېرولو د پاره کومه پېشه خپله کړې وي دغه نهٔ يواځې په اخلاقي توګه پرېوتې وي بلکې غېرقانوني هم وي - ګلابو سر د پاسه سر نهٔ مني - د نورو د جذباتو ، احساساتو يا عزت نفس مجروحه کولو نه بېخي ناخبره وي البته د خپل ذاتي سود زيان د پاره نور وګړي ضرور استعمالوي او په هر حالت کښې خپله انا او خود داري اوچته ساتل غواړي - هغه د زغم او برداشت ماده بېخي نهٔ لري او هر وخت جنګ جنګ نعرې وهي-
په کارخانه کښې چې د کار کولو په دوران کښې يوه جينۍ هغې پورې ټوقه وکړي او نورې جينکۍ وريورې وخاندي نو ګلابو سره لمبه شي - زر د بدې نه

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26

چاقو راوباسي او کومې جينۍ چې ورپورې ټوقې کړې وي ، هغې ته جوابې ووائي :

"ودرېږه چې په چاقو لږ ستا دا لېنګې وګروم چې مور پلار ته مې بهانه جوړه شي چې ماتۀ خره خره کولې او په دومره ساعت کښې خرونه رانه غلو بوتلل چې لېنګې دې لږ شان وګرېږي - نو ته به ګواه شې او د مور پلار نه به مې خلاصه کړې - "۱۲

عن تر دې چې هغه ټوقماره جينۍ هله پرېږدي چې په پتون ئې په چاقو زخمي کړې او چې کله په ډيوټۍ ولاړ عمر ګل سپاهي او د هغۀ بل ملګرے راورسي، ګلابو تانې ته روانه کړي او د کارخانې نه بهر ترينه عمرګل تپوس وکړي چې :

" تا دا جينۍ ولې په چاقو ووهله ؟ اوس خو به خامخا جېل ته ځې نو بيا هم خپله پړه نۀ مني او عمرګل سپاهي ته په جواب کښې ووائي :

" وهله به مې نه ، په ټولو اپريدو پورې ئې خندا کوله - کۀ زما په ځاے تۀ وې نو تا به څۀ چل کولو - " ۱۳

مطلب دا چې ګلابو د ځان سره سره په خپل قام قبيله هم د نرګسيت تر حده مئينه وي - هغې ته چې کله پته ولګي چې د جينۍ په چاقو وهلو جرم کښې به اوس خامخا عدالت ته بوتللے شي او په دغه سزا کښې به جېل ته ځي نو د ځان د بچ کولو په خاطر ډېر په چالاکۍ سره سپاهي ته ووائي چې :

" زما خو په جېل کښې به ساه وخېژي او زما بوډۍ مور به څۀ کوي؟ د دې نه خوبه ښه دا وي چې ما څوک ووژني - زۀ د

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26



مرګ نه نۀ ویرېږم خو د جېل نه ډېره ویرېږم ، تۀ څنګه زماوطني يې ، تۀ زما څۀ امداد نۀ شې کولے ؟" ۱۴

په خپل دغه مکار توب د عمر ګل زړۀ نرم کړي او هغه ورته د تخښتېدو لاره سمه کړي -

ګلابو نۀ يواځې خپل ځان او خپله پېشه غوره ګڼله بلکې د خپل غرض او مقصد تر لاسه کولو د پاره د نورو په اماده کولو او رضا کولو هم پوهېدله کله چې ورنه عمرګل وپوښتي چې :

" ښه ستا مطلب دے چې د نوکرۍ نه ډاکه ماري ښه ده ؟ نو ګلابو ورته خپله مدعا نرګسي رنګ کښې څۀ په دې تورو بيان کړي چې :

" خپله خو د يوې مودې نه زما دغه کار دے خو خېر زۀ خو ښځه ذات يم - زۀ خو دا کار کولے شم او تۀ خو سړے يې ، ستا نه چرته د شېر کار کېدے شي - تا تياره خوړلې ده او تياره چې څوک وخوري - د هغوي نه د مړدۍ کار نۀ کېږي - زۀ پوهه شوم - ستا نه به توره ونۀ شي- تۀ نوکري کوه ، خړې استري کړې جامې اچوه - په آئينه کښې ستوکے اړوه او د ډول سرنا سره پرېډ کوه او ګډېږه يا د چا افسر تالي ټتېه او تالي وينځه دغه کار تا ته ښۀ دے - ما وې ګني تۀ به اپريدے يې، د نرانو کار ته به ګوتې واچوې او زما ملګرے به شې خو زما اندازه غلطه وه --- تۀ زما ملګرے نۀ شې جوړيدے -" ۱۵

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26
ماخذ تحقیقی مجلہ

د ګلابو دغه طنزيه او پېغوري خبرو کښې دومره زور وي چې نۀ يواځې ورته عمر ګل ګوته په خُلۀ پاتې شو بلکې د نوکرۍ پرېښودلو او د ګلابو د ملګرتيا فېصله هم وکړي - هغه ډېره زياته خوشحاله شي - د ډېرې خوشحالۍ نه ئې خان ته راجخت کړي او ورته ووائي :

" ما دا اراده کړې وه چې په ژوند کښې به يو يار ساتم خو نر يار، چې په نره د خلقو نۀ قلنګ اخلي - بس د نن نه پس تۀ زما يې او زۀ ستا ، خو کۀ د خپل لوظ نه واوړېدې نو بيا مې د ګور خاورې په تا پېرزو دي - د ژوند پامته داره دې نۀ يم - "
۱۶

او چې کله ورسره عمرګل سبا ماښام ته دوباره په مستقله توګه د راتلو وعده وکړي او رخصت ترېنه غواړي نو ګلابو ورته بيا خبردارے وکړي چې :

" کۀ رانغلې نو ژوندے به رانه نۀ ګرځې -" ۱۷

د ګلابو سيمائي ذهن ښځي زغم نۀ لري او په ډېره لړه خبره ئې مازغۀدانګي، کومه چې د يو نرګسي او ابنارمل بنيادم ښکاره علامت ګڼلے شي - کله چې بازار کښې د مېوې اخستو په وخت ګلابو د سړو په جامو کښې دکاندار ته ووائي چې :

" کاکا ! دا امرود لږې ښې ښې دانې راته وتله ، تۀ خو تړول لګېدلے مال مونږ ته راکوې " او دکاندار ورته نۀ يواځې په ترس بد بد وګوري بلکې طنزيه دا هم ووائي چې :

" داسې معلومېږې خان ! کومګے مېوه دانه چرته نۀ ده خوړلې " نو د ګلابو پاره وخېژي او عمري ته په غصه کښې غلې شان ووائي چې :

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26

ماخذ تحقیقی مجلّہ

" یره ! کۀ بازار نۀ وې نو اوس به مې چاقو د دۀ دې خېټې
سره جنګولے وۀ او دا ټوله کلان کارې به مې ترې هېره کړې
وه - " ۱۸

په یوه موقعه چې عمرے د ګلابو سوچ او نظریې سره متفق شي او هغې ته ووائي چې :

" بالکل صحیح ده، د پښتون سره مُلا توب نۀ ښائي - مُلا
توب د بلې دنیا خبرې دي او پښتون په بله دنیا اور لګوي !
بله دنیا څۀکوي ؟ زۀ خو وایم قتل ښۀ دے - غلا ده ښه، ډاکه
ښه ده، کنجر خانه ښه ده، جواري ښه ده ، شراب ښۀ دي،
ټګي برګي ښه ده - ظلم ښۀ دے خو مال دې سړے پېدا کړي
او خاني دې کوي - " ۱۹

نو ګلابو بې شانه خوشحاله شي - عمرے راترغاړه باخي او بې ساختګۍ سره ووائي :

" خدائېګو نر پښتون يې، رانزدې شه لږ چې په خُلۀ دې ښکل
کړم " ۲۰

خو چې د عمري په ذهن کښې د مثبت ژوند تېرولو څرک وځلېږي ، د ډاکه مارۍ د ژوند نه زړۀ بد ے شي او ګلابو ته د نصیحت په توګه ووائي چې :

" اخر مونږ به تر کومې داسې ژوند تېروو ، د بدکار انجام بد وي، د لېوني سپي عمر کم وي- ښه به دا وي چې دا ژوند پرېږدو او کراچۍ ته لاړ شو، زۀ به مزدوري کوم او دواړه به د غریبۍ خو د دیانتدارۍ ژوند تېروو، نو ګلابو ورته په جواب کښې ګویانه شي چې :

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26
ماخذ تحقیقی مجلہ

" مونږ د پېټو او بارونو اوچتولو د پاره نۀ يو پېدا شوي ، بار خو د خر کار دے- خر پرې ښۀ ښکاري - ښۀ به دا وي چې زۀ په وخت خان ته يو نر او پښتون يار وګورم، ما ډېر کوشش وکړو چې تا نه يو پښتون خان جوړ کړم خو ستا د دماغ په تيرو ګوټونو کښې مُلائي پرته ده - تۀ به اخر مُلا جوړېږې، ستا نۀ خاني نۀ کېږي - د نرتوب ژوند تا ته د ګناه ژوند ښکاري او غريبي خواري درته د ديانتدارۍ ژوند - د غريبۍ نه بله لويه ګناه په دنيا کښې نشته --- غريبي د کلهم ګناهونو مور ده --- " ۲۱

د عمري کردار د ابنارملتي نفسياتو په رڼا کښې

عمرے د ميا سيد رسول رسا د ليکلي ناول مفرور مردانه مرکزي کردار او هيرو دے چې د واحد متکلم په صيغه کښې ناول نګار ته خپله قيصه بيانوي - د دې ناول موضوع او تکنيک سره سره کردار نګاري هم د ډېرې ستائينې وړ ده - هر څو کۀ د ناول د ښځينه مرکزي کردار ګلابو په نسبت ښاغلي ناول نګار د عمري کردار سره هغسې خواري نۀ ده کړې څنګه چې پکار وه - بيرته هم د عمري د کردار شخصياتي تجزيې سره د دې کردار ځينې اهم اړخونه ضرور مخې ته راځي چې پکښې ئې مونږ د ابنارمليت اړخ هم تر ډېره حده وينو - د څۀ نه چې د دې کردار د مفرورتيا او ډاکه مارۍ د ژوند نقشه په ډاکه کېږي -

پروفيسر ډاکټر محمد اعظم اعظم ليکي چې :

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26



" عمرے اګر چې په دې خپله پېشه کښې ډېر وړاندې لاړ شي
او خلق ئې د يو نامتو مفرور او ډاکه مار په نامه يادوي خو د
هغۀ په کردار کښې څۀ داسې انفراديت نۀ ښکاري چې د
هغۀ خپل وي يا د څۀ نه چې د هغۀ د کردار شناخت کېدے
شي - داسې معلومېږي چې ښاغلي رسا ټول زور هم د ګلابۍ
په کردار اچولے وي -"۲۲

دې لړ کښې د ډاکټر اعظم صاحب رائې سره تر ډېره حده اتفاق کېدے شي - څنګه چې وړاندې وئيلي شوي دي چې ابنارملټي د رويې يا ذهن يو داسې عمل وي چې د عام ګڼلو نه په واضحه توګه انحراف کوي - او د حالاتو يوه ويړه دنيا رانغاړي چې د ذهني صحت خرابي، د شخصيت خرابي، د وړوکوالي محرومۍ ، ناقلاري ، احساس کمتري يا احساس برتري يا نورې داسې حالات او واقعات کوم چې په سوچونو، جذبو يا رويو اغېز مني لري، د دې وجوهات کېدے شي - هم دغه رنګ د عمري په کردار د وړوکوالي محرومۍ او د ناقلارۍ د ژوند تېرولو اثر هم وي چې د هغۀ شخصيت ئې د ابنارمليت سره مخ کړے وي - هغه چې کله د تي ماشوم وي نو په کور ئې ميراته شوې وي - دغه وخت کۀ هغه خپله په څۀ نۀ پوهېږي ولې وروستو د غريبۍ او محرومۍ ژوند کښې د يو شمېر ازمېښتونو سره ضرور لوے شوے وي - لکه چې خپله قيصه بيانولو کښې وائي :

" زۀ د تي ماشوم وم چې زمونږ په کور تربورانو ميراته وکړه -
پلار او ځوانان ورونړه ئې راته ووژل او زۀ مې مور په الغاؤ
تلغاؤ کښې د لوپټې د پلو لاندې پټ بل کندي ته وزغلولم او

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26

ځۀ موده پس ئې پېښور ته راوستم- مور مې په پېښور ښار کښې دېره شوه- خواري، مزدوري به ئې کوله او زۀ به ئې ساتلم-"۲۳

عمرے نۀ يواځې د مستقل مزاجۍ د مادې نه عاري وي بلکې بې صبري او ناقلاري ئې هم د شخصيت مهمه برخه وي - هغه په خپلو کړو فېصلو ډېر زر پښېمانه کېږي هم او په لږه خبره غصه کېږي هم، چې د يو ابنارمل انسان درک ښائي -

د هغۀ چې د ډيوټۍ دوران کښې د ښځو په کارخانه کښې په ګلابو سترګې خوږې شي او دا ورته هم معلومه شي چې د دۀ د قام قبيلې سره هم اړيکې لري نو د جرم کولو باوجود هغې ته د تښتېدو موقعه ورکړي خو چې کله په دغه معامله کښې خپله د سزا په توګه يوه مياشت حوالات وخوري او بله هم بائيلي نو په حوالات کښې په خپلو کړو پښېمانه شي او سره د دې چې په زړۀ کښې دغې جينۍ ته بد رد هم وائي ولې بيا هم دا اقرار کوي چې له خياله به مې نۀ وتله او شپه او ورځ به د هغې په غم کښې سودائي وم - او بيا چې ئې ګلابو سره د يو زلمي عياشه پوليس کپتان په بنګله کښې ملاقات وشي چې دے ورسره اردلي وي - د شرابو، کبابو دور شروع شي او کپتان ګلابو سره چېړ چاړ راواخلي نو عمرے بيا د قابو نه بهر شي ، لکه چې وائي :

" ماته داسې قهر راغے چې ما وے ورځم او يو شپېړ ډزه ئې په تماچه وولم خو اپريدۍ د کپتان صاحب د مينې، محبت په اظهار کښې ځۀ خاص دلچسپي وانۀ خسته - " ۲۴

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26
ماخذ تحقیقی مجلہ

دا هغه تتې نخښې نښانې دي چې د يو شخصيت ابنارمليت ته اشاره کوي - د عمرې چې د ګلابو سره تړون وشي او هغه ئې د خپلې غېر روايتي طريقې مطابق کور ودانه شي نو د وړومبۍ شپې تېرېدو نه پس د دواړو د زړۀ کېفيات د يو بل د پاره بدل شي او کله چې ترېنه عمرے په دې مقصد رخصتېږي چې سبا ماښام به د خپل سامان سره په مستقله توګه بيا راځي نو د دغه وخت کېفيات څۀ په دې ډول بيانوي :

> " زۀ د ګلابو نه رخصت شوم او د رخصتېدو په وخت کښې ما هغه او زۀ هغې بې واره بې واره ښکل کړم - په ما اوس دې جينۍ څۀ داسې جادو کړے وۀ چې زۀ په لاره روان وم خو سودا مې ټوله ماښام کښې وه - ما په اول ځل ژوند کښې د ښځې د محبت تجربه کړې وه -" ۲۵

د وادۀ نه پس عمرے د ګلابو په ولقه کښې داسې ګېر شي لکه چې د خپل شخصيت انفراديت ئې بېخي ختم شي او اوس يواځې د هغې په اشارو ګډېږي او هغۀ څۀ کوي ، څۀ چې پرې ګلابو کول غواړي - هغه ئې داسې ذهن سازي وکړي چې د دۀ خپلې ځانګړتياوې بېخي د جمود ښکار شي - عمرې ته خپله هم د دغې خبرې احساس کېږي ولې بيا هم ورته د ګلابو د مينې د سحر نه وتل ګران محسوسېږي لکه چې خپله په يوه موقعه دا اقرار کوي چې:

> " ګلابو چې بيان خلاص کړو نو زۀ مطلب ته ورسېدم چې په ذمه مې غټ او درووند کار دے- د غلو او ډاکه مارو د فوځ کمان او سرداري څۀ اسان کار نۀ دے خو زۀ اوس د دې

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26

ښځې په لاس کښې ګوډاګے وم - ما دې ته د هېڅ نه انکار نۀ
شو کولے - دا زما په زړۀ او دماغ خوره وه او زۀ د دې په اشارو
ګډېدم-" ۲۶

د ګلابو په وېنا او اشاره ظلم او بربريت او هر ناروا کار کول اوس د عمري د کردار مهمه برخه شي، د هغۀ د زړۀ نه د همدردۍ او صله رحمۍ مثبتې جذبې کډه وکړې او همه منفي جذبې پکښې ځاے ونيسي - د هغۀ اوس د چاقو، چاړې او ټوپک سره روزګار وي او د خپلې ډاکه مارۍ د پېشې تر مخه د مال د تر لاسه کولو په غرض د هر چا مرۍ غوڅولې شي لکه چې د يو ډاکه مارۍ حال څۀ په دې تورو کښې وائي :

" اخر زۀ چاړۀ په لاس هندو ته ورغلم او ورته مې ووې : "
سېټهه کۀ د سر امن دې غواړې نو مال ښايه، نقد مال ګڼې
چاړۀ دې خېټې سره جنګوم - "
هندو زر چابياني راوغورځولې او را ته ئې ووې :
" نائيکه ! ما ته زما بال بچ ته څۀ مۀ وايه نور ستاسو خپل
مال دے، ټول کور ستا په وړاندې دے " ۲۷

مطلب دا چې د عمري د ژوند مقصد اوس صرف مال پيدا کول وي، هغه کۀ په هره طريقه وي او د هر چا نه بوته کول وي - هغه صرف پېسه پېژني او د خپل ذهني تسکين د پاره د هر چا په حق ډاکه اچول ورته ناروا نۀ ښکاري - د هغۀ هر کار په خپله ګټه او د نورو په زيان تمامېږي چې د هغۀ په کردار کښې د نرګسيت او ابنارمليت ښکاره علامتونه دي لکه چې په يوه موقعه ګلابو ته څۀ په دې ټکو ووائي :

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26
ماخذ تحقیقی مجلہ

" ---- اوس دا راته وایه چې د چا سر خور کړم، خدائېګو کۀ په
پیسکي پورې ئې ډېو ترلې وي خو چې د پېسې غوټه وي - نو
خلاص به رانه نۀ شي - " ۲۸

عمري ته اوس د یو انسان مرګ د چرګوټې د وژلو نه هم اسان ښکاري - د هغۀ سترګې سپینې شوې او زړۀ د کاڼي شوے وي - او نۀ ورته ګناه کول ګناه محسوسېږي - کله چې د ګلابو خاص ملګرے د څو روپو د پاره وژني نو د دغې احوال څۀ دا رنګې بیانوي:

" زۀ د شا د مخې راغلم او دا خپل ملګرے مې په سر په
تماچه وویشتو - روپۍ مې راواخستې او ګلابو مې د ځان
سره راروانه کړه - ګلابو د دې سرې په مرګ څۀ خفګان شان
ظاهر کړو خو چې زما په سترګو پوهه شوه نو غلې شوه - " ۲۹

د عمري ابنارملیت هغه وخت خپلې انتها ته ورسي کله چې په غصه کښې د خپل ژوند په ملګرې ګلابو هم ټوپک راواړوي او رسا ئې د زړۀ په سر ولي- ګلابو د لګېدو سره په زمکه پرېوځي، خپلې غټې غټې تورې سترګې د عمري په لور راواړوي، په خُلۀ هېڅ ونۀ وائي خو د سترګو نه ئې یو څو رښې اوښکې وبهېږي او ساه ورکړي -

د ګلابو کردار د ابنارملتي نفسیاتو په رڼا کښې

ګلابو د ښاغلي سید رسول رسا د لیکلي وړومبني ناول مفرور ښځینه مرکزي کردار او هیروئن ده - ښاغلي ناول نګار د ګلابو کردار ته پوره توجو ورکړې ده او د تخیل په اساس ئې دا کردار ډېر مثالي رغولے دے - هر څو کۀ ئې په دې کردار کښې ځینې داسې مردانه خوبۍ هم ځاے

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26

ماخذ تحقیقی مجلہ

کړې دي چې اختلاف ورسره کېدے شي - بیرته هم په مجموعي توګه ګلابو د کردار، کردارنګاري د ناول د هیرو د کردار په نسبت ډېره غوره شوې ده او په دغه لحاظ ترېنه د ګلابو د کردار انفرادیت ښاځي بلکې هم دغه مردانه خصوصیات د ګلابو کردار ته ابنارملیت بخښي -

د ګلابو خود داري او په خپل ځان بې حده باور او اعتماد د یو ناشوني فطرت عکاسي کوي- هغه ژوند د خپلې مرضۍ مطابق تېروي او په شخصیت ئې د هیچا د اثر سرۀ غلبه نۀ محسوسېږي - هغې د ژوندانۀ تېرولو د پاره ځان له یوه داسې پېشه ټاکلې وي چې په معززه ټولنه کښې ورته هیڅوک په درنه سترګه نۀ ګوري خو هغې ته پکښې هېڅ قباحت نۀ محسوسېږي او تر مرګه پورې په خپله نظریه ټینګه ولاړه وي -

ډاکټر محمد اعظم اعظم د ګلابو د کردار په حقله لیکي :

> " ګلابو یوه داسې جینۍ وي چې د غربت او ناداری له کبله د خپلې طبقې د نورو جینکو په شان د حالاتو د بدمرغۍ په وړاندې توره ډال نۀ غورځوي - هغه نۀ خو د خپل عصمت سوداګري کوي ، نۀ د چا په کور کښې کار خدمت ته غاړه ږدي او نۀ د سوال په ټکړو باندې ځان پالل د هغې د فطرت موافق خبره وي - د هغې د فطرت خود داري او خود اعتمادي هغه یوې داسې پېشې ته وړاندې کړي چې د اخلاقیاتو او قانون له خوا اګر چې دغه یو ناخوښې او ناجائزه عمل وي لیکن د ګلابۍ په خیال کښې په دغه پېشه کښې د هغې ضمیر مطمئن وي - هغه د سړو جامې

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26


واغوندي او يوه ډاکه ماره شي او په دغه اوان کښې د هغې
ملاقات د عمر سره وشي-" ۳۰

ګلابو د خپلې ټولنې په نسبت ژوند ته په بدل نظر ګوري او د هغې دغه بدل نظر اصلي کښې د هغې د شخصيت ابنارمليت ته اشاره کوي چې پکښې ئې مثبت او منفي دواړه اړخونه راټول وي - هغه چې په کارخانه کښې په جينۍ د چاقو ګوزار کوي او په پتون ئې زخمي کوي نو غتيه وجه ئې دا وي چې فطرت ئې د تورسرو د نرم خوئي او رحمدله زړونو نه جدا وي بلکه دا چې ټوقمارې جينۍ ئې په قام، قبيلې پورې مسخرې کړې وي - د هغې په زړۀ کښې د خپل قام، قبيلې فوقيت خوندي وي او په هېڅ صورت کښې ئې سپکاوے نۀ شي زغملے، نۀ ئې سيمائي طبيعت خپله بې عزتي برداشت کولے شي -

د ګلابو د هيچا نه سترګه نۀ سوزي ځکه خو د زلمي پوليس کپتان بنګلې ته هم بغېر څۀ ويرې ترهې په ډېر چل هنر د دوه نورو عياشو جينکو په بدرګه کښې د عمرې د ملاقات په غرض لاړه شي او چې کپتان ورسره د غرضي مينې چېړچاړ پيل کړي نو د هغۀ د مينې په اظهار کښې څۀ خاص دلچسپي وا نۀ خلي البته خپل غرض پوره کړي او عمرې سره ډېر په رازدارانه طريقه سوال جواب وکړي - کله چې ګلابو عمرے نوکرۍ پرېښودو او د ډاکه مارۍ پېشې خپلولو ته جوړ کړي او هغه ئې په وړاندې د سوچ او نظريې مطابق وغرېږي نو د ګلابو تسلي وشي چې عمرے په دنيا ښۀ پوهه شوے دے ځکه خو ورته په جواب کښې وائي چې:

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26



" زمونږ خيالات يو دي، مونږ دواړه غلا ته، خون ته، ډاکې ته، ظلم او ناروا ته، حلالو او حرامو او بې انصافۍ ته په يوه سترګه ګورو- په دې وجه زمونږ صلاح او مصلحت به يو وي او مونږ به په کاميابۍ خپل کار کولے شو-" ۳۱

د ګلابو دغه خيالات خو د هغې د انفرادي سوچ تر مخه بالکل ټيک او جائز وي ولې بل خوا دغه ټول کارونه او عملونه د ټولنې د عامو وګړو د پاره غېر اخلاقي او غېر قانوني دي او د سماجي اصولو نه نۀ يواځې انحراف کوي بلکې د چاپېريال سره په سمون خوړولو کښې مداخلت هم پېدا کوي او د نورو د زيان باعث جوړېدے شي چې مونږ ته د ګلابو د کردار ابنارمليت ښايي-

د ګلابو د کردار غېر عموميت او ابنارمليت په هغه موقعه هم د هغې د خيالاتو نه په پوره ډول څرګندېږي کله چې د يوې ډاکه مارۍ نه وړاندې عمري ته د ډاکه مارۍ اصول او قاعدې ورښايي لکه چې وائي:

" کۀ څوک ستا حکم نۀ مني او غټه برخه غواړي يا مال خورد برد کوي نو سمدستي ئې سرخوروه- زمونږ دود دستور صفا دے- انعام او غټه برخه د هغوي ده څوک چې ښۀ کار وکړي او سزا د هغوي ده څوک چې خپل کار کښې سستي وکړي او يا د ملګرو سره بې وفائي وکړي- دلته صرف زور حق دے او نر هغه ګڼلے شي چې د دښمن سر خور کړي- کۀ په دښمن چا رحم وکړو نو داسې پوهه شه چې خپل سر ئې خور کړو،

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26
ماخذ تحقیقی مجلہ

دلته هر څوک د ځان د پاره دے او شېطان هغه رانیسي
څوک چې زغل کښې وروستو پاتې شي۔" ۳۲

څۀ وخت چې په یوه ډاکه مارۍ کښې د غلو د ټولګي یو کس د پولیس په ډزو زخمي شي او مخ په وړاندې د تلو جوګه نۀ وي نو د هغوي د دستور مطابق هغه کس ختمول ضروري وي ولې د عمري زړۀ کښې د دغه کس د پاره د رحم جذبه غزونې وکړي۔ ګلابو چې د هغۀ په نیت پوهه شي نو زخمي یو بل کس ته حواله کړي، هغه زخمي په شا کړي خو د سترپا په وجه ئې څۀ وړاندې په ټوپک یو څو ډزه ولي او سر ترېنه په دې غرض غوڅ او څادر کښې واچوي چې د پېژند ګلو له کوره وځي۔ ګلابو په دغه موقع عمري ته غلې شان ووائي:

" کۀ تۀ داسې رحم کوې نو د ډاکه مارو سرداري به ستا نه
ونۀ شي۔ پکار دا وو چې دا کار تا کړے وے۔" ۳۳

د ګلابو سوچونه، کارونه او عملونه د ټولنې د وګړو نه بېخي په فرق وي۔ هغه نۀ د چا تقلید کوي او نۀ د چا تقلید مني۔ د یو پښتون شخصیت په بابله هم د هغې نظریه د ټولنې سره اختلاف لري لکه چې په یوه موقعه د دغې اظهار څۀ په دې ډول کوي:

" زۀ خو وائیم هغه به څۀ بې غېرته پښتون وي چې قبر ته د
کوزېدو سره منکر نکیر پرې بې تپوسه راکېږدي۔ پښتون له
پکار دي چې هر څۀ چې شي خو یو مُلا نۀ شي او د خلقو د
خندا نۀ شي او چې مړ شي ، ښځې ورپسې په دعا کښې دا
ونۀ وائي چې ډېر ښۀ سړے وۀ، نۀ د چا د ښو کښې وۀ او د نۀ
د چا په بدو کښې او د چا ملاسته غوا ئې هم نۀ وه پاڅولې "
۳۴

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26

د ګلابو دا سوچ او نظريه وي چې بنيادم دې له خويه تريخ او سخت مزاجه وي- د نرمۍ جذبه هغه له سره هډو مني نه، او نۀ د هغې په نظر کښې د روا او ناروا پېمانې څۀ اهميت لري - هغه ژوند ته په يوه داسې زاويه ګوري چې د نورو په نزد بېخي ناشوې او غېر روايتي وي -

ګلابو دا نظريه لري چې :

"بنيادم کښې خو تراخۀ دي - په تراخو پائي ، د مار نه چې تراخۀ وباسې نو مار مهے شي- خلق ئې خوري او د شېر نه چې تراخۀ وخي نو يوه غټه شان بې خونده پيشو شي او په سرکس کښې په نخرو او په پېخو شي، خلق خوشحالوي او ټقالي ورنه جوړ شي - بنيادم چې خوږ شي نو ماشي او مېږي ئې وخوري- بنيادم په خوئي بوئي کښې تريخ او تُند خويه دے چې خلق ورنه ويرېږي - "۳۵

ګلابو دا عقيده لري چې :

" پښتون جاهل ښۀ دے خو خان ښۀ دے " د هغې په نزد " مال په دوؤ طريقو پېدا کېږي، هم په توره ، هم په هوښيار توب ، لارې شوکول او ډاکې غورځول د تورزن کار دے او افيم ، چرس په غلا خرڅول، رشوت او نور حرام کول دا د هوښيار ۳۶"-

پورتنۍ د ګلابو د کردار هغه ناشونې او انفرادي خصوصيات دي چې يا خو د ټولنې د خلقو نه بېخي بدل دي يا چرته خال خال په نظر راځي ځکه ئې مونږ

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26

ماخذ تحقیقی مجلہ

د ګلابو د کردار د ابنارملیت په زمره کښې شمېرو او دا په واضحه توګه یو غیر منحرف کردار بللے شو -

حوالې :

1) Encarta world English Dictionary Bloomsbury Publishing London 1999, P 1258

2) انور جمال، پروفیسر، ادبی اصطلاحات، نیشنل بک فاونڈیشن اسلام آباد، اشاعت سوم جنوری 2016ء، صفحہ نمبر۱۷۱

3) سید رسول ، رسا، مفرور، یونیورستي بک ایجنسي ، پېښور اشاعت دریم خل 2013ء، مخ ۲۳

4) هم دغه اثر، مخ۲۵

5) هم دغه اثر، مخ۷۱

6) سلام سندیلوی، ڈاکٹر، اردو شاعری میں نرگسیت، نسیم بک ڈپو لاٹوش روڈ، لکھنو سن اشاعت نہ دارد صفحات نمبر۱۵، ۱۴

7) سید رسول، رسا ، مفرور، یونیورستي بک ایجنسي ، پېښور اشاعت دریم خل 2013ءمخونه ۷۴، ۷۳

8) هم دغه اثر ، مخونه ۸۳، ۸۲

9) مبارک حیدر، تہذیبی نرگسیت، جرات، تحقیق، چوتھی اشاعت فروری 2011ء، صفحہ ۶۰

10) سید رسول، رسا ، مفرور، یونیورستي بک ایجنسي ، پېښور اشاعت دریم خل 2013ء مخ ۱۰۲

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26

ماخذ تحقیقی مجلہ

11) هم دغه اثر، مخونه ۸۴، ۸۳
12) هم دغه اثر، مخ ۲۸
13) هم دغه اثر، مخ ۲۸
14) هم دغه اثر، مخ ۲۹
15) هم دغه اثر، مخونه ۴۲، ۴۱
16) هم دغه اثر، مخ ۴۳
17) هم دغه اثر، مخ ۴۴
18) هم دغه اثر، مخ ۵۱
19) هم دغه اثر، مخ ۸۹
20) هم دغه اثر، مخ ۹۰
21) هم دغه اثر، مخونه ۹۷، ۹۶
22) محمد اعظم اعظم، ډاکټر،پښتو ادب کښې کردارنګاري ، پښتو اکېډمي پېښور یو نیورسټي، چاپ اول ۱۹۹۳ء مخ ۳۵۰
23) سید رسول ، رسا، مفرور، یونیورسټي بک ایجنسي ، پېښور اشاعت دریم ځل 2013ء، مخونه ۲۳، ۲۴
24) هم دغه اثر، مخ ۳۳
25) هم دغه اثر، مخ ۶۲
26) هم دغه اثر، مخ ۷۸
27) هم دغه اثر، مخ ۸۰
28) هم دغه اثر، مخ ۱۰۰
29) هم دغه اثر، مخ ۱۰۴

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-26
ماخذ تحقیقی مجلہ

30) محمد اعظم اعظم، ډاکټر،پښتو ادب کښې کردارنګاري ، پښتو اکېډمي پېښور یو نیورستي، چاپ اول ۱۹۹۳ءمخ۳۴۵

31) سید رسول ، رسا، مفرور، یونیورستي بک اېجنسي ، پېښور اشاعت دریم خل 2013ء، مخ ۶۷

32) هم دغه اثر، مخونه ۸۵، ۸۶

33) هم دغه اثر، مخ ۸۵

34) هم دغه اثر، مخ ۸۹

35) هم دغه اثر، مخ ۹۰

36) هم دغه اثر، مخ ۱۹۲